احسان الله ارینزی

۲۰۲۳/۰۳/۱۰

# نړیوالې ټولنې

## پنځه ویشتمه برخه

د ملګرو ملتونو عمومی ټولنه

دریم -- زده کړې او څېړنې:

**۱ــد بې وسلې کولو په برخه کې د څېړنو نړیوال انستیتوت United Nations Institute for Disarmament Research(UNIDIR)**

UNIDIR د ملګرو ملتونو یوه فرعي څانګه ده چې په کال ۱۹۸۰ کې، د UN د عمومي ټولنې له خوا، د بې وسلې کولو او نړیوال امنیت په برخه کې، د څېړنو له پاره جوړه شوه. د UNIDIR مقر په ژنیو (سویتزرلند) کې دی.[1]

**۲ --د زده کړو او څېړنو له پاره د ملګرو متلونو انستیتوت United Nations Institute for Training and Research(UNITAR)**

د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې، د کال ۱۹۶۳ د دسمبر په ۱۱ پرېکړه وکړه چې د نړیوالې سولې او امنیت ساتلو او د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا له پاره، د زده کړو او څېړنو له لارې، د ملګرو ملتونو د ټولنې د کاري اغېزمنتیا د لوړولو له پاره UNITAR جوړ کړي.

UNITAR په ټوله نړۍ کې د ملګرو ملتونو د مامورینو، او هغه دیپلوماتانو د ظرفیت د لوړاوي له پاره کار کوي چې په یو ډول نه یوډول، له ملګرو ملتونو سره کار لري. په دې زده کړو کې څو اړخیزه دیپلوماسي، اقتصادي پراختیا، نړیوال حقوق او د ملګرو ملتونو مصوب اسناد، وتلی ځایونه لري.

جوړښت: UNITAR د ملګرو ملتونو د یو فرعي ارګان په توګه داسې جوړښت لري:

- مدیره هیات: د UNITAR مدیره هیات ۱۱ – ۳۰ غړي لري چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا، د عمومي ټولنې او د اقتصادي او ټولنیزه شورى د مشرانو په خوښه، د دریو کلونو له پاره ټاکل کېږي.

د نوموړي مدیره هیات مشر ته د UNITAR اجراییه مشر یا رییس ویل کېږي. د UNITAR کلني لګښتونه هېوادونه، بین الحکومتي ټولنې او غیرحکومتي سرچینې ورکوي)[2]

**۳ -- د ملګرو ملتونو د کارکوونکو کالج UN System Staff College (UNSSC)**

د ملګرو ملتونو د کارکوونکو کالج د جوړېدو فکر هغه وخت پیاوړی شو، چې د نړیوالو مدني خدماتو د اغېزمنتیا د ډېرېدو اوږدمهاله اړتیا ولیدل شوه. په کال ۱۹۶۹ کې د داسې یو روزنیز کالج د پرانستلو لومړني ګامونه پورته شول. په کال ۱۹۷۱ کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د کارکوونکو د روزنې د کالج لومړنی منظوري ورکړه.

په ۱۹۹۳ کې د ملګرو ملتونو سرمنشي هیله څرګنده کړه چې ملګري ملتونه او ILO دې په ګډه د دې کالج په وړاندیز کار وکړي. دا وړاندیز دوه کاله وروسته ومنل شو او کالج په ۱۹۹۶ کې عملاً په کار پیل وکړ.

د کال ۲۰۰۰ په اګست کې یو خپلواکه پلاوی د UNSSC د کار او زده کړو بهیر وڅاره او څه سپارښتنې یې وکړې.

د کال ۲۰۰۱ په جولای کې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې د ملګرو ملتونو د کارکوونکو کالج منظور کړ. په دې منظوري کې راغلي و چې دا کالج به د ملګرو ملتونو ټولې لویې کورنۍ ته لوړې پوهې او مدیریت، اوږدمهاله مشرتوب، د مدیریت د اغېزمنتوب، د عملیاتو د ګټورتوب، د مدیریت د کلتور او دې ته ورته نوې مسلکي زده کړې برابروي.[3]

جوړښت:

-مدیره پلاوی: دا پلاوی د UNSSC ټولې تګلارې، تدریسي پروګرامونونه، راتلونکې پراختیایي پلانونه، مالي سرچینې او کلنۍ بودجه ګوري او منظوري ورکوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې پلاوي ۱۱ غړي د پروګرامونو د عالي کمېټې High – Level Committee on Programs (HLCP) او د مدیریت د عالي کمېټې High – Level Committee on Management (HLCM) له منځه ټاکل کېږي او دنده لري چې د کالج د اغېزمنتیا د ډېرولو، او د ملګرو ملتونو د ټولې کورنۍ د بریالیتوبونو له پاره کار وکړي.
مقر: د UNSSC مرکزي دفتر او لوست ځای د ایتالیا په تورین کې موقعیت لري؛ خو په اوسنیو Online شرایطو کې د ملګرو ملتونو هر مستعد کارکوونکی د شرایطو مطابق برخه اخستلای شي.[4]

**۴- د ملګرو ملتونو پوهنتون UN University (UNU)**

دا پوهنتون د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د کال ۱۹۷۲ د دسمبر د ۱۱ نیټې د پرېکړې له مخې په توکیو کې جوړشو. UNU د بشري ژوند د بقا، ښه ژوندانه، ټولنیزه هوساینې او پرمختیا او پراختیا په برخو کې،ځوانان او د UN کادرونه روزي او څېړنې کوي.
اوس UNU د ملګرو ملتونو یو علمي او څېړنیز بنسټ بلل کېږي، چې له کال ۲۰۲۰ څخه را پدیخوا، د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې په مسوولیت د فراغت اسناد ورکوي.
جوړښت: UNU د هغه شورى له خوا اداره کېږي چې د بېلابېلو هېوادونو له ۲۴ پوهانو څخه جوړه ده او د ملګرو ملتونو د سرمنشي او د UNESCO د لوی رییس یا مشر له خوا په ګډه، د ۶ کلونو له پاره ټاکل کېږي.
رییس د پوهنتون تر ټولو لوړ اداري او علمي مشر دی چې د پاسنۍ شورى غړیتوب هم لري. دا پوهنتون څو مشورتي کمېټې لري چې په دې برخو کې کار کوي: نړیوال لوړه، بشري او ټولنیزه پراختیا او د طبیعي زېرمو یا سرچینو مدیریت او استفاده.
فعالیتونه: د UNU استادان په دې موضوعاتو په څېړنو بوخت دي: سوله، له لانجو او کړکیچونو څخه خلاصون، نړیوال اقتصاد، خوراکي توکي او بشري او ټولنیزه پراختیا.
UNU څلور جلا څانګې هم لري:
الف – د اقتصادي څېړنو د پراختیا له پاره نړیوال انستیتوت (WIDER) چې په کال ۱۹۸۵ کې، په فنلند کې جوړ شو او په لاندې مسایلو کار کوي: لوړه، بیوزلي، سوداګریز، مالي او تکنالوژیکي معلومات،
ب – په افریقا کې د طبیعي زېرمو او سرچینو انستیتوت (INRA) چې په کال ۱۹۸۹ کې په اکرا (ګانا) جوړ شو او په افریقا کې د علمي او تکنالوژیکي ظرفیتونو د لوړاوي په کار بوخت دي،
ج – د نوي تکنالوژۍ انستیتوت (INTECH) چې په کال ۱۹۹۰ کې، په ماستریخت (هالند) کې پرانستل شو،
د – د سافت ویر تکنالوژي نړیوال انستیتوت (IIST) چې په ۱۹۹۲ کې په بماکو ( مالی ) کې جوړ شوی دی.
همغه وخت په توکیو (جاپان) کې د پرمختللو مطالعاتو انستیتوت هم پرانستل شو.[5]

---

[1] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۵۸
[2] سازمان های بین المللی، نلمزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۱۵۵ او www.unitar.org/the institute

[3] unssc.org/board
[4] unssc.org/board

[5] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۱۵۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ